AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۳/۰۸/۱۳

# د جمهوریت د سقوط عوامل

## د جنګسالارانو ونډه

(یوویشتمه برخه)

**ټر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکټر عبدالله، عبدالله (۱۴)**

**په افغانستان کې سوله او د سولې عالي شورا جوړښت (۵)**

له ۲۰۱۹ ز، کال له ټاکنو وروسته چې ډاکټر عبدالله د سولې عالي شورا رئیس شو نو لا خوند یې وکړ، هغه کیسه ترې جوړه شوه چې وایي: **(اول هم بنه وه خو چې (...) وار یې پرې وکړ، لا بنه شوه.)**

دا مهال چې عبدالله د سولې عالي شورا مشر ؤ، ولسمشر اشرف غني د یو فرمان په ترڅ کې د شورا په رهبرۍ کې د هېواد ځیني مهم کسان وټاکل چې په هغو کې پخواني ولسمشر حامد کرزی او ګلبدین حکمتیار هم وو خو دوی دواړو په نوموړي شورا کې خپل غړیتوب ونه مانه.
اشرف غني د عبدالله یو شمېر نږدې سلاکاران لکه: فرخنده زهرا نادري، سید اسحاق ګیلاني او مولوي شهزاده شاهد وشړل، عبدالله د ولسمشر غني فرمان ونه مانه، هغه وویل چې د سولې عالي شورا حکومتي بنسټ نه دی چې د ولسمشر په فرمان ټاکني په کې ترسره شي.

دوحې ته د سولې شورا رییس عبدالله سفر چې د بین الافغاني خبرو د پرانستلو په مراسمو کې د ګډون په موخه تللی ؤ، د اشرف غني له مخالفت سره مخ شو، اشرف غني غوښتل د عبدالله تر څنګ د حکومت د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر هم په خبرو کې برخه واخلي خو کله چې طالبانو د سولې په ناسته کې د اتمر له خبرو کولو سره مخالفت وکړ، نو ارګ کوښښ وکړ چې د حکومت له خوا لیکل شوی متن عبدالله ولولي، عبدالله وویل چې د ارګ مامور نه دی، یوازې د سولې شورا په استازولۍ خبرې کوي. https://8am-media.webpkgcache.com


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

له دې وروسته بين الافغاني خبرې په مسکو کې وشوې چې د افغانستان سیاستوالو او پخوانیو چارواکو هم ګډون په کې وکړ. د طالبانو له لورې د قطر د دفتر مشر عباس ستانکزي او پلاوي یې ګډون په کې درلود. د دې خبرو دویم پړاو بیا په مې میاشت کې وشو. دا لومړی ځل و چې د طالبانو د قطر دفتر ته نوی ټاکل شوی مشر ملا عبدالغنی برادر د رسنیو پر وړاندې راڅرګند شو.

عبدالله چې په خټه کې یې لټي او ناغېړي نغښتي ده او یوازې بهر هیوادونو ته په چکر وهلو کې بنه تکړه دی، د سیمه ایزې اجماع د پیاوړتیا په پلمه، سربېره پر ګاونډیو هیوادونو، هند، امریکا، قطر او نورو هیوادونو ته په چکر ووت، عبدالله چې کومو هیوادونو ته سفر وکړ، د هغو هیوادونو ولسمشرانو د سولې په لاره کې د مرستې ژمنه وکړه (په ځانګړي توګه پاکستان چې هېڅ یې ونه کړل.)
عبدالله د سولې په چارو کې تر دې پورې بې کفایته او لټ ؤ چې د طالبانو له خوا د درو میاشتو لپاره د اوربند طرحه چې د زلمي خلیل زاد په لاس ورلېږل شوې وه، د کاغذ پر مخ لوستي هم نه وه چې له امله یې د درو میاشتو په اوږدو کې د جګړې دوارو غاړو ته په زرګونو افغانان ووژل شول.
چې په هکله یې «د طالبانو د پلاوي مشر شهاب الدین دلاور په مسکو کې یوې خبرې غونډې ته وویل، دا طرحه چې د ۹۰ ورځو په موخه د اوربند وړاندیز په کې شوی ؤ، څو میاشتې پخوا د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ته سپارل شوې وه چې د افغانستان حکومت ته یې وسپاري.
دلاور زیاته کړه، کله چې مې ډاکټر عبدالله ولید، ومې پوښت چې زموږ طرحه یې لیدلې ده؟ ویې وویل چې طرحه یې ترلاسه کړې خو تر اوسه پورې یې لوستې نه ده.»
د ښاغلي دلاور په وینا په دې طرحه کې وړاندیز شوی ؤ چې ۹۰ ورځې دې جګړې ودرول شي؛ د ولایتونو پر مرکزونو او ولسوالیو دې بریدونه نه کېږي او په هغو سیمو کې دې عملیات نه کېږي چې ګڼه ګونه په کې وي او دغه راز دې د راتلونکي نظام په اړه دواړه خواوې خبرې وکړي. تاند(شنبه، د سرطان ۱۹)

طالبانو چې د ۱۳۹۸ل. ل، کال د کب میاشتې په لسمه نېټه له امریکایانو سره د سولې تړون لاس لیک کړی ؤ، د طالبانو مورال لوړ او د افغان حکومت چارواکو مورال په ډېره ټیټه کچه کې ؤ، طالبان پوهیدل چې حکومت به خامخا له منځه ځي، طالبانو د سولې له خبرو د ماشومانو لوبه جوړه کړې وه، د حکومت چارواکي به په اونیو، اونیو په دوحه کې پراته وو خو طالبانو به خبرې نه ورسره کولې او ملنډې به یې پرې وهلې.«د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله وایي طالبان د لجاجت په کولو د سولې خبرو اترو وخت ضایع کوي او د خبرو پرمختګ ته ژمنتیا نه لري.»
هغه وایي چې د افغانانو لپاره د اختلافاتو د له منځه وړلو لپاره د خبرو اترو تعقیبول دي، ولې دا کار په یو طرفه هڅو پایله نه ورکوي.
عبدالله چې ډېر ناهیله شوی ؤ، په اړه یې سرچپه وړاندوینې وکړې ویې ویل:«که د مقابل لورې محاسبه دا وي چې د جنګ له لارې به بریالي شي، لویه تېروتنه ده. سوله همېشه د افغانانو غوښتنه ده، ولې که جنګ تحمیل شي له دفاع پرته بله لار نشته.»
د ملي مصالحې عالي شورا رییس په پای کې وویل، موږ د خبرو اترو او سیاسي حل لارې تعقیب ته ژمن یو، اما که طالبان جنګ او نظامي لار پر خلکو تحمیل کړي، دې موخې ته به ونه رسیږي. (۲۰۲۱ز، د جون ۲۹مه)
https://pashtojournal.com

دا مهال په هیواد کې د جګړو اور پراخ شوی ؤ او د جمهوري نظام عمر یوازې څو ورځې پاتې ؤ، عبدالله غوښتل د ۱۴۰۰ل. ل کال د زمري په ۱۸مه نېټه دوحې ته له طالبانو سره د سولې خبرو کولو په موخه ولاړ شي خو ناڅاپه یې سفر وځنډید، وروسته د زمري په ۲۱مه نېټه د دوحې په غونډې کې چې د سیمې هیوادونو استازي هم ورته راغلي وو، عبدالله د افغانستان د سولې شورا په استازیتوب ګډون وکړ، په غونډه کې عبدالله غوښتنه وکړه چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا دې د افغانستان د امنیتي وضعیت په هکله بېړنۍ غونډه جوړه کړي، نوموړي زیاته کړه چې په افغانستان کې حالات بحراني دي، هغه لاسته‌راوړنې چې په دې وروستیو کلونو کې ترلاسه شوې دي له تهدید سره مخ دي، هغه وویل چې هره ورځ په کلیو او ښارونو باندې د طالبانو په بریدونو کې په زرګونو کسان ټپي او وژل کیږي ... عبدالله که هر څو بغارې ووهلې څه ځای یې ونه نیو ځکه چې په خبرو کې یې وزن او اغېز نه ؤ.

اشرف غني له ډاکټر داؤد جنبش سره په یوه ویډیویي مرکه کې د عبدالله د سولې د وروستیو ناکامیو په اړه وویل:«عبدالله د سولې شورا مسؤل ؤ، د کاغذ پر مخ یې کوم قدم پورته کړ؟ کومه طرحه یې په عمل کې راوړه؟ کله چې په ځانګړې الوتکه کې دوحې ته ولاړ، د اختر په ورځ بېرته راغلو، ماته یې وویل چې طالبان هېڅ ډول خوځښت ته حاضر نه دي.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خېر و لولئ

له بده مرغه چې عبدالله له لومړۍ ورځې د سولې په چارو کې په غوښ ډول ناکام ؤ، هغه مهال چې جمهوري نظام د ځنکدن په شیبو کې ؤ، عبدالله له کرزي او نورو سیاسي مشرانو سره د اشرف غني لیدو ته ورځې تر څو اشرف غني ته له ولسمشرۍ څخه د ګوښه کیدو پیغام ورکړي، په غونډه کې اشرف غني له عبدالله هیله وکړه چې خپل پیغام ووایي خو د عبدالله له خولې څه نه اوریدل کیږي، عبدالله له حامد کرزي څخه غوښتنه کوي چې خبرې وکړي، په دې اړه عیني شاهد، د ولسمشرۍ ماڼۍ د عامه او ستراتیژیکو اړیکو پخوانی مشر، وحید عمر لیکي:«شنبې د اګست ۱۴مه د ماسپښین دوه نیمې بجې: د ناستې فضا کرکېچنه ده، په څېرو کې اندېښنې او پرېشانې له ورایه ښکاري، ټول غلي ناست دي او پر شونډو هېڅ موسکا نشته. ظاهراً داسې ښکارېږي چې سیاسي مشران ارګ ته راغلي او مهم پیغام لري. له معمول سره سم د قرانکریم تلاوت کېږي او وروسته ولسمشر ناسته پیلوي، د معمول خلاف، جمهور رئیس د ویلو لپاره ډېر څه نه لري. مایک روښانوي او ډاکټر عبدالله ته وایي چې د هغه خبرو اورېدو ته چمتو دی، ډاکټر عبدالله له حامد کرزي غواړي چې پیغام ورسوي.

پخوانی ولسمشر حامد کرزی عاطفي غږېږي او وایي په کابل کې جګړې او وینې تویدو ته اندېښمن دی... بیا اصلي مطلب ته راځي، جمهور رئیس ته وایي چې د پرېکړې او قربانۍ وخت دی او د کابل د ورانېدو او وینې تویېدو مخه باید ونیول شي. حامد کرزی سپینه خبره نه کوي، خو ټول پوهېږي چې هدف یې څه دی.

ولسمشر ظاهراً د سیاسي رهبرانو پیغام درک کوي او د ناستې په جمع بندۍ کې دی هم د مقاومت او درېدو خبره نه کوي، وایي چې د رهبرانو له ورانديز سره موافق دی. دنده ورکوي چې یو باصلاحیته پلاوی وټاکل شي چې سبا قطر ته لاړ شي او له طالبانو سره نهایي پرېکړه وکړي، دا خبره کوي او په بیړه بې له خدای په امانۍ له ناستې وځي.» (د جمهوریت ۷۲ وروستي ساعتونه؛ ارګ کې د درېیو وروستیو ورځو پېښنو روایت.

پرېکړه وشوه چې له طالبانو سره د نهایي پرېکړې په موخه حامد کرزی او عبدالله دې سبا ورځ، چې د اګسټ ۱۵مه نېټه ده دوحې ته ولاړ شي، له بده مرغه چې د اګسټ په ۱۵مه دوه نیمې بجې ولسمشر اشرف غني د خپلو نږدې همکارانو لخوا ووېرول شو او په یوه منډه له هېواده ووت.

د اشرف غنی له تېښتې وړاندې ټول امنیتي وزیران او د ولسمشر مرستیالان له کابله تښتیدلي وو خو د اشرف غني له تښتیدو سره د جمهوري حکومت ټول ارګانونه تخلیه شول.

د حامد کرزي او عبدالله سفر دوحې ته ونه شو، حامد کرزی اړ شو طالبانو کابل ښار ته راوغواړي تر څو په ښار کې د غلو او بې نظمیو مخه ونیسي.

دا وه د سولې عالي شورا د کړنو پایله چې د جمهوریت په سقوط کې یې مهم رول ولوباوه، اشرف غني او نور وتښتیدل خو ډاکټر صاحب عبدالله په خپله لومه کې بند پاتې شو.

نېټه: ۱۴۰۲/۵/۲۰ ل. ل

**نور بیا**

د لیکوال: آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ